د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

د موضوعي خبرونو لړۍ

# په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولايتونو کې د کوکنارو کرکيله او د خاورې ارزونه



پاول فيشستين

سلواغه ۱۳۹۱

ژباړن: ایمل پسرلی

طرح او دیزاین: احمد سیر علمیار

د خپرونی کد: ۱۴۰۵P

© ۱۳۹۳د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد. ټینې حقونه خوندي دي. دا خپرونه نبايي بياځلي تولید، آرشیف او د غیر اقتصادي موخو لپاره ولېږل شي، چې په دې صورت کې يې د ليکلو اعتبار په ليكوال پورې اړه لري. كه دا خپرونه بيا ځلي توليد، ذخيره يا د وېبپاڼې له لارې خپرېږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ويبپاڼه www.areu.org.af بايد ورسره وي. د موادو د کاپي کولو لپآره بايد د خپرندويه مرکز ليکلي اجازه واخيستل شي. په لاندې برېښنا ليک او ټليفون ليکلي اجازه ترلاسه کولی شي.

# د ليکوال په اړه

پاول فيشستين (د کرهنې او سرچينو په اقتصاد کې ماستر) د افغانستان د څېړنې او ارزونې د څانګې مخکينی مشر دی، دی له ۱۹۷۷ کال راهيسې د افغانستان تجربه لري. دم ګړۍ خپلواک سلاکار دی.

مننې

ليکوال غواړي له اسلام الدين همکې،فابريزيو فوسکينی، ديويد منسفيلډ او محمد ضيا څخه د دې ليکنې د لومړني متن په باب د ګټورې کره کتنې له امله مننه وکړي.دغه راز دی د دوامداره څېړنې او پرمختيا د ټولنې (Sustainable Research and Development) د کارکوونکو مننداوی هم دی چې څېړنه ، شننه او زياتونې يې پرې کړې دي. د خوړو په نړيوال پروګرام او د زيانمنوونکو چارو د شننې او نقشې په برخه کې له مدثر نظر نه هم مننه چې د معاشونو او د خوړو د بيو تازه معلومات يې راته چمتو کړل او په اليس لميټيډ شرکت کې له دليپ وا ګ نه مننه چې نقشې يې توليد کړې.

پاول فيشستين

فبروري ۲۰۱۴

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې ميشته يوه خپلواکه څېړنيزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پاليسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپاليسۍ او چارو مثبتې اغيزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څېړنې پايلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسيدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخيستنې دترويج په موخه له پاليسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنيزې وړتيا د پياوړې کولو په موخه بڼکيل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ(AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړيوالې مرستندويې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه يو بورد لري چې د مرستندويو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخيزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU او سمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فيلنيډ له سفارته، د سويډن د بهرنۍ پرمختيا د مرستندويه ادارې (SIDA) او د پرمختيا او همکارۍ لپاره د سويس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپايي کميسيون (EC)، د پرمختيا او همکارۍ لپاره د سويس ادارې (SDC)، د نړيوال پرمختګ انستيټيوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختيايي ادارې (UNDP)، نړيوال بانک، د منځنۍ اسيا پوهنتون (UCA)، د امريکا د سولې انستيټيوټ (USIP)، د نړيوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GmbH)، (GIZ) او د فيلنيډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

**دغه څېرنه د اروپايي اتحاديې په مالي مرسته جوړشوی دی. رپوټ متن يوازې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد (AREU) مسئووليت دی او په هيڅ توګه د اروپا د اتحاديې د موقف څرګندوی نه ګڼل کيږي.**

# خلاصه

عمومي نظر دا دی چې تر ۲۰۱۴ مهم کال وروسته به د کوکنارو کرکیله ډېریږي، دا هغه وخت دی چې له افغانستانه نړیوال جنګي پوځي ځواکونه وځي او افغانستان به نوي ولسمشر ټاکي. په ۲۰۱۲-۱۳ کلونو کې په ملي کچه په هغو سیمو کې چې کوکنار کرل کېدل په دریم پرله پسې کال دا کرکیله ډېره شوې وه او د اپیمو کچه هم ډیره ختلې وه. له ۲۰۰۷ کال څخه راوروسته په لومړي ځل په ۴۱۰ هکتاره مځکې باندې د کوکنارو د کر ریکارډ په دې معنا دی چې بلخ نور له «کوکنارو پاک» ولایت نه دی او په بدخشان کې بیا د کوکنارو د کر مځکه ۲۳ سلنه ډېره شوې حال دا چې په دغه ولایت کې له کوکنارو د ډیرو سیمو د پاکولو رپوټ هم ورکړل شوی دی. د بلخ ولایت په دوو ولسوالیو (چمتال او بلخ) کې او د بدخشان په (خاش او جرم) ولسوالیو کې د ۲۰۱۳ کال د می میاشتو څېړنو داسې څه وموندل:

- **د کرکیلې او پاکونې کچه:** د بلخ په ولایت کې لا هم د کوکنارو کرکیله په هغو سیمو کې روانه ده چې نا امنه دي. تر نورو کلونو سږ د حکومت له خوا د کوکنارو د پاکونې هڅې پیاوړې وې. رپوټونه ښیي چې ۸۰ هکتاره مځکه پاکه شوې ده حال دا چې ښایي په ځینو برخو کې دا کار د حاصل تر ټولولو وروسته شوی وي. د مخدره موادو د ویجاړولو په برخه کې د حکومت د پیغام رسولو چارې بریالۍ وې خو دا خبره ډیره ښکاره نه ده چې ځایي سپین ږیري د مخدره توکو د ویجاړۍ اجندا ته څومره ژمن دي په همدې دلیل دا هم څرګنده نه ده چې دغه هلې ځلې اصلاً د کوکنارو د کرکیلې په کمولو کې څومره اغېزمنې وې.

  په بدخشان کې د کوکنارو کرکیله د ولایت لروبر کې خپره ده خو تر ډېره د دغه ولایت له ۲۸ ولسوالیو څخه په اوو کې ډېره تمرکز لري. رسمي شمېرې ښیي چې په ۲۰۱۲-۱۳ کال کې د کوکنارو د پاکولو چارې د پام وړ ډیرې (۵۷ سلنه) شوې، خو دا شمېر په کلیوالو کچه د کمې او یا «زړه نا زړه» پاکولو له یادونې سره سر نه خوري، دغه کار د بزګرانو پر چلند یا هیڅ او یا هم خورا کم اغېز لرلی دی، د تیر کال په پرتله نژدې ټولو د کوکنارو کرکیله یا ډیره کړې او یا یې هغه پخوانی حالت ساتلی دی. برخه والو د دې پرېکړې دلیل د کوکنارو لوړه بیه ، د پور پرې کولو اړتیا ، د بدیل فصل کمښت یا نشتوالی او د کوکنارو د کروندو پاکولو په برخه کې د کمزورې هڅې هیله یاده کړې.

- **امنیت:** د بلخ په ځینو هغو برخو کې چې پخوا نا امنې وې د امنیت ښه والي چې تر یوه ځایه ځایي افغان پولیسو په کې ونډه لرله او د سړکونو ښه والي بازار ته ښه لار وموندله دې کارونو د سبو له کرکیلې او د نورو فصلونو له زیاتېدو سره مرسته وکړه. د بدخشان په ګڼو سیمو کې امنیت خراب شوی دی، په ځانګړې توګه په کلیدي سیمه وردوج کې، د بدخشان په نازک سیاسي حالت کې دا ګرانه ده چې د نا امنۍ پړه په یوه ځواک واچول شي بلکې هلته ځایي تربګنۍ، سیالۍ ، د باغیانو شته والی، د واک لرونکو ځایي قوتونو او جنایي ډلو ګډوله ده.

- **د بیلا بیلو فصلونو اهمیت او له کرکیلې د باندې عاید:** د بلخ ولایت ډېرو هغو کسانو چې د اقتصاد د ښه حالت یادونه یې کړې ده دلیل یې د ښو حاصلاتو ، سملاسي پیسه ګټونکو یا نغدو فصلونو او له بزګرۍ د باندې کاروبار بللی دی. ځینو کورنیو د پخوانیو فصلونو له عایداتو څخه په ترلاسه شویو پیسو د تولیدي شتمنیو د اخیستلو خبر ورکړی. خو د حاصلاتو پر وخت د بیو ټیټوالی، د ترانسپورت لوړه بیه، د سالنګ لویې لارې د تړلو له امله خنډ او ځنډ او د فصلونو ناروغۍ د بزګرانو عاید لا هم کموي. د مزار شریف په ښار کې د ورځې مزدورکار وایي معاشونه یې کم شوي او د کارګرو اړتیا هم کمه شوې، همدا د ځایي او ملي اقتصاد د کمښت له عام شوي نظر سره سمون خوري، په دې کې ودانیز یا تعمیراتي سیکتور هم راځي چې د کارګرو لپاره د کار مهمه سرچینه وه.

- په بدخشان کې د نورو کرهڼيزو لارو کمښت د هغه ځای له چاپېريال، ليرې والي او جغرافيې سره تړاو لري، بزګرانو بازار ته د لاس رسي نه لرل لوی خنډ بللی دی. د بلخ په څېر په فيض اباد کې کارګرو او په کشم و جرم کې خلکو په تعميراتي کارونو کې د کار د کمښت خبر ورکړی دی خو ځينې داسې شواهد و چې د کوکنارو کرکيلې د کرهڼې، لو او نيش پر وخت ځينې کارونه پيدا کړي دي.

که څه هم دا موندنې بايد په ځانګړې توګه په بدخشان کې له لويه سره په احتياط وکتل شي چې د ځينو فکتورونو نشتوالی په کې ښکاري چې د هغو له امله ښايي په اوږدمهال کې د کوکنارو کرکيله کمه شي ، ممکن د اپيمو بيه راولويږي چې ښايي لنډمهالی وي.

د مرستو په مټ په پرمخ تلونکي اقتصاد ( د بېلګې په توګه د مزار غوړېدونکی ښار ) کې په زور مخنيوی او له کرکيلې دباندې د کار نشتوالی ښايي په راتلونکې کې تر ډېره پاښت ونه کړي. په يوه بې ثباته او يا له سيالي ډک سياسي چاپېريال کې به په زور د امنيت ساتل لاګران وي او تمه ده چې دغه حالت به له ۲۰۱۴ کال وروسته تر ستر ګو کېږي، هغه وخت به دولت يا يې استازي په زور د داسې تګلارو پلي کېده ښايي ونه غواړي چې په خلکو ښه نه لګيږي او يا ټولنې ورسره مرستندويې نه وي په ځانګړې توګه چې د ټاکنو کال هم دی. د ۲۰۱۲-۱۳ کال په پرتله د کوکنارو د اړولو په چارو کې ۲۴ سلنه کمښت او د مخدره توکو پر ضد د مبارزې د وزارت له لورې د افغانستان د ملي پوځ او ملي پوليسو د « کمزورې همکارۍ» يادونه ښايي د هوډ د کموالي يوه نخښه وي. په عين وخت کې ښايي په هغو سيمو کې دا زور دوام وکړي چې د سياسي او يا نورو پياوړو مشرانو له ګټو سره تصادف کوي. هغه سيمې چې د نارسمي تړونونو او يا د افغان ځايي پوليسو د ځای پر ځای کولو ( لکه چمتال) له امله تر يوه ځايه امنيت په کې ساتل شوی ډېر ځله د ځايي واک لرونکو د شک وړ او يا خوځنده وفادارۍ له امله په کې امنيت زيان ليدونکی دی.

د اقتصاد په برخه کې مخ په ځوړ ملي اقتصاد چې د پانګونې او تقاضا لپاره په کې د اړتيا وړ ډاډ کم شوی له کرهڼې دباندې به بې روزګارو او يا تر وړتيا په ټيټو کارونو بوختو کليوالو ته د کار مواقع لاکمې کړي. دا که د افغانستان او متحدو ايالاتو ترمنځ ګډ امنيتي تړون لاسليک شي يا نه شي بيا هم د نړيوالو مالي مرستې هرو مرو کمېدونکې دي، دا به د ملاتړ لپاره پيسې کموي او دغو پيسو د ځينو په ګومان شتمنې وښلې او يو نه يو ډول امنيت يې « پېرلی يا رانيولی» دی. د نړيوالو پيسو په بدل کې د نوي ملاتړ لټون ښايي جنايت او يا د قانوني يا ناقانونه سرچينو په سر سياليو ته خبره وباسي، دغه راز د مخدره توکو کرکيلې، توليد او سوداګرۍ ته ښايي مخه وشي. سربېره پر دې نا امني له بازار سره په تړاو د بزګرانو په ګومان خطر زياتوي چې ورسره به له قانوني کرکيلې خلک زړه ماتې شي، بزګران امنيت، د ادارو او بازار سمو چلېدو ته اړ دي او په نشتوالي کې يې يوازې يو فصل ډېر غوره بږي. وروستۍ خبره لا دا چې ايران او پاکستان ته د کډوالۍ « خوندي جال» وارد مخه لږ ارزښت لري او علت يې سياسي شرايط او د ګاونډيو د پيسو د ارزښت رالوېدل دي، که چيرې په کابل يا بل ځای کې جدي جنګ وشي نو ښايي ګاونډي په کلکه د کډوالۍ مخه ډب کړي او په دې توګه هلته تګ لا کم ممکنه وي.

په داسې حال کې چې اوسنی ناډاډه سياسي او امنيتي چاپېريال ښه نه ښکاري خو بيا هم داسې شواهد شته چې په ځينو سيمو کې د بازارونو ارتباط لا ډېر شوی او د نغدو فصلو او يا له بزګرۍ دباندې مزدورۍ له کبله د پيدا شوو پيسو له امله شتمني ډېره شوې. له خپل توانه د لا نورې ګټې اخيستلو لپاره او د ځان لپاره د عايد موندلو په نيت د بازار او اوبو لا خوندي سيمو ته د لاسرسي په خاطر قانوني فصلونو ته بايد اداري او فزيکي کمزورۍ حل لارې ومومي چې په دې ډول د بزګرانو خطر کم شي، دغه بزګران ان په هغه ممکنه لا خوندي ځايونو کې د فصلونو د ناروغيو، حشراتو، د سړکونو د خرابو حالاتو، نامنظم امنيت او بهرنيو بازارونو له مله کړېږي. که نه نو راتلونکی نا مطمينه پېر دا خطر لا ډېروي چې بزګران ناقانونه فصلونو ته مخه کړي ځکه دغه فصلونه د بازار شرايطو تکيه نه کوي.

# لنډيز او پايله

د ۲۰۱۳ کال د می په میاشت کې د بلخ او بدخشان په څلورو ولسواليو کې څېړنې دغه موندنې ولرلې.

## بلخ

- د بلخ په ولايت کې د کوکنارو کرکيله لا هم له نا امنۍ او هغو سيمو سره تړلې وه چې د دولت کلک کنترول پرې نشته. د چمتال او بلخ په ولسواليو کې ترسره شوې څېړنې ښوولې چې په ۲۰۱۲-۱۳ کلونو کې امنيت ښه شوی ، په تېره بيا په چمتال کې چې ځايي افغان پوليس په کې ځای پر ځای شول. که څه هم په څېړنه کې برخه والو په اوږد مهال کې د ځايي افغان پوليسو پر شته والي اندېښنه وښووله او وېره يې لرله چې همدوی بالاخر د ناامنيو سبب نه شي. د مخدره توکو پر ضد د ځايي افغان پوليسو دنده لا هم څرګنده نه ده.

- د څېړنې پر وخت د کوکنارو کرکيله د تېرو کلونو په پرتله ښه توده روانه وه. د حکومت د معلوماتو هلې ځلې هم داسې ښکاريدې چې خبره يې تر غوږونو رسېدلې ده خو د سپين ږيرو له خوا د کوکنارو نه کرلو ته هوډ کلی په کلی مختلف و او ډېر په شخصي اړيکو او خبرو اترو ولاړ و. د کوکنارو د پاکولو او د معلوماتو له کمپاين سره هم په چمتال کې پر ۴۱۰ هکتاره مځکه کوکنار کرل شوي وو چې په ۲۰۰۷ کال کې بلخ ولايت ته له « کوکنارو د پاک» ولايت ورکړل شوی نوم پرې وګټل شو.

- په يوې محدودې بېلګې کې وليدل شول چې د چمتال له هرو څلورو اوسېدونکو هغو درو چې په ۲۰۱۱-۱۲ کال کې کوکنار کرلي وو په ۲۰۱۲-۱۳ کې يې لا ډېر وکرل. په دوی کې هيچا د ۲۰۱۱-۱۲ کال په ترځ کې د کوکنارو د ماتولو او پاکولو چاره نه وه ليدلې خو د کمپاين د وخت له امله دا جوته نه شوه چې دوی څومره کوکنار له لاسه ورکړي وو.

- د امنيت ښه کېدلو او د سړکونو جوړېدلو بازار ته لاسرسی ښه کړ خو ويل کېدل چې په چمتال کې د ترانسپورت بيه لوړه وه او د حاصلاتو په ورځو کې د فصل بيه ټيټه وه. په دواړو برخو کې يعنې د سړو خونو د نشوالي له امله د حاصلاتو ټيټه بيه او د سالنګ د لوېې لارې د بندېدا له امله بازار ته نه رسېدنه د بزګرانو عايد کم کړ. په ۲۰۱۲-۱۳ کلونو کې چې چا غنمو ته مخه کړې وه د حاصلاتو د ناروغۍ (د بېلګې په توګه د خټکيو خرابېدل) او يا بازار ته د حاصلاتو په رسولو کې ستونزې د خپلې پرېکړې د بدلولو اصلي دليل وباله.

- په چمتال کې چې د کومو کورنيو سروې شوې ده هغوی د سبو کرکيله د پام وړ حد پورې ډېره کړې ده. په بلخ کې د سبو د کمې کرکيلې دلايل بيلا بيل وو چې د مځکې کمښت، کم حاصل، د پمپې يا مالوچو ښه بيه او بازار ته د لاسرسي ستونزې په کې ښايي يادې شي. د هغو کورنيو چې اقتصادي حالت يې ښه شوی دليل يې د نغدو حاصلاتو ښه کرکيله او له بزګرۍ دباندې کار ياد کړی. د هغو چې اقتصادي حالت خراب شوی و دليل يې د نغدو فصلونو ناکامي ( لکه هندوانه) او يا د کورنيو ستونزې وګڼلې.

- داسې شواهد و چې له نغدو حاصلاتو بزګرانو د توليدي شتمنيو لکه موټرانو او زرنج د اخيستلو کار اخيستی چې له بزګرۍ دباندې عايد پيدا کولی شي.

- په مزار شريف کې له مزدورکارانو سره په مرکو کې جوته شوه چې معاشونه کم شوي او کارونه لږ شوي دي، دا د دې ښکارندويې کوي چې په ښاري اقتصاد کې چټکې کمه شوې په ځانګړې توګه د تعميراتو په برخه کې بې روزګارو او تر وړتيا د ټيټې کچې کار ته چمتو کليوالو لپاره د کار موندنې يوه وسيله وه. يوازينۍ برخه چې له دې مستثنا وه د کرهنې وه چې معاشونه يې لوړ شوي وو.

## بدخشان

- د بلخ خلاف په بدخشان کې نژدې په ټولو ولسوالیو کې د کوکنارو کرکیله خپره ده چې زموږ د څېړنې دوه ولسوالۍ کاش او جرم هم په کې شامل دي.

- په بدخشان کې امنیت تر ډېره ځایي دی خو له لویه سره په دغه ولایت کې امنیت خراب شوی او یو شمېر د پام وړ بریدونه په ځانګړې توګه په وردوج کې شوي دي.په جرم کې د ۲۰۱۱-۱۲ کال په پرتله امنیت خراب شوی دی، دلیل یې تر یوه ځایه د ګاونډۍ ولسوالۍ وردوج حالت دی. سخته ده چې نا امني دې په یو نه یو فکتور یا دلیل پورې وتړل شي، نا امني په ځایي نښتو او سیالیو پورې هم ده د تړلی بیلا بیلو لکه ځایي واکمنو او مجرمانو ترمنځ د ګټو د مخامخېدنې چاره هم په کې ده چې د یوې غاړې غړی د بلې په برخه کې خپله ګټهویني.

- د مخدره توکو او جرمونو پر ضد د ملګرو ملتونو ځانګه او د مخدره توکو پر ضد د مبارزې افغان وزارت ترمخه په بدخشان کې د کوکنارو د کروندو اړولو چارې په ۲۰۱۲ کال کې او بیا په ۲۰۱۳ کال کې ډېرې پراخې شوې، په ۲۰۱۳ کال کې ۵۷ سلنه زیاتوالی په کې راغلی چې تر بل هر ولایت زیات و. خو رسمي شمیرې په خاش او جرم کې له هغو سره چې څېړنې کې وموندل شوې سر نه خوري. حقیقت دا دی چې د مخدره توکو او جرمونو پر ضد د ملګرو ملتونو ځانګه او د مخدره توکو پر ضد د مبارزې افغان وزارت د کوکنار پاکولو وروستی رپوټ په بدخشان کې ( او په ځانګړو نورو ولایتونو لکه کندهار، ارزګان اوننګرهار کې) د پاکونې بڼه « ډېره کمزورې» بللې وه او ویلي یې و چې په پیل کې یې ۹۲۲ هکتاره مځکه ( د وروستي رپوټ یو په دریمه برخه) تر هغې ډېره یاده کړې وه چې له کوکنارو پاکه شوې وه. د بلخ په څیر بدخشان کې هم د حکومت د تګلارو په باب معلومات تر خلکو رسیدلي او سرغړوونکو ته یې پایلې هم په ګوته شوي خو داسې ښکاري چې د ځایي سپین ږیرو له لورې هوډ نشته، ویل کیږي چې ځینې یې خپله په کرکیله کې لاس لري او نه غواړي چې د خلکو د هیلو خلاف کار وکړي. د کروندو د پاکونې او د معلوماتو د رسونې له ګړندیو هڅو سره هم په ۲۰۱۲-۱۳ کال کې بدخشان کې د کوکنارو کرهڼه ۲۳ سلنه ډېره شوې وه، تر دې یو کال وړاندې ۱۳ سلنه ډیروالی راغلی و.

- په هغو سیمو کې چې سروې شوې دي د کروندو د پاکولو او د معلوماتو د کمپاین اغیز د بزګرانو په چلند باندې یا لږ شوی او یا یې له هیلو خلاف هیڅ اثر نه دی لرلی. له یوه پرته نورو ټولو برخه والو ویلي چې « زړه نا زړه» او یا خال خال پاکونې او هغه چې له سرکه لیرې وو او یا یې واسطه درلوده له دې کمپاین څخه بالکل پاتې شوي دي.مرکه کوونکو داسې وښووله چې بزګرانو له هیلو سره سم (په کمه) کچه پاکونه د کرکیلې په پیل کې حساب کړې یا منلې وه.

- په ځواب کې د هغو کسانو چې په سروې کې یې برخه واخیسته د بدیلو فصلونو غوښتنه دا وه چې د کوکنارو لپاره ښېله شوې مځکه لا ډېره کړې: په دواړو سیمو کې له ۳۰ کورنیو څخه۲۷ کوکنار کرلي و او د هغو ۲۰ کورنیو چې په ۲۰۱۱-۱۲ کال کې یې کوکنار کرلي وو ۱۷ یا دا کرهڼه ډېره کړې وه او یا یې هغه کچه ساتلې وه چې پخوا یې په کې کرلي وو. په ۳۰ کورنیو کې چې مځکه یې کوکنارو ته ښېله کړې وه دا کرهڼه یې ۴۵ سلنه ډېره کړې وه. د سروې برخه والو د دې پرېکړې دلیل د کوکنارو ډېره ګټه، په کرهڼې یا له بزګرۍ دباندې نورو برخو کې د کار نشتوالی، د پورونو پرې کول او د کوکنارو د کروندو د پاکولو پڅ عمل وباله. یو شمیر کورنیو دا باور او ګومان یاد کړ چې « هر څوک یې کري».

- د هغو کورنيو شمير هم ډېر شوې وی چې کچالو يې کرل چې په دې سيمه کې د نغدو پيسو ګټونکی لوی فصل دی او ډېره مځکه ورته بېلېږي.

- د قانوني فصلونو په کرکيله کې بزګرانو ته تر ټولو لوی سرخوړی بازار ته لاسرسی دی، د تراسنپورت بيې لوړې دي او د څارويو په وسيله لېږد توکي خرابوي. له دې سربيره په بدخشان کې د چاپېريال، زيربنا، ځای او جغرافيې محدوديتونه هم شته.

- د کليو په کچه د کوکنارو ټيټه بيه ډېر ځله د دې مسووله بلل شوې چې سوداګر يې اخيستو ته زړه ښه نه کړي، ټيټه بيه بيا له دې امله ده چې د پوليسو له خوا يې د نيولو ( او يا بيرته پلورلو ) ويره شته.

- له بزګرۍ دباندې چارو څخه عايد لا هم مهمه برخه جوړوي، که څه هم په څېړنه کې برخه والو او د روزانه مزدورۍ مزدورکار په فيض اباد کې ويل چې کار کم شوی دی، د کار د کمښت دليل د پرمختيايي فعاليتونو کمېدل او ايران ته د کډوالۍ لږېدل بلل شوي دي. د افغانستان ملي پوځ يا ملي پوليسو ته شاملېدل لا هم د روزګار يوه لاره ده خو په کې شته خطرونو ته پام لا ډېر شوی دی. داسې شواهد و چې د کوکنارو د کرکيلې، حاصل او نيش پر وخت(سړو او ښځو دواړو ته) کار پيدا کېده.

## عواقب يا پايلې

په داسې حال کې چې دغه پاسنۍ موندنې په يوه کار پورې ځانګړې دي او محدوده ساحه په کې راځي نو بايد د څېړنې له ساحې دباندې عمومي ونه بلل شي خو ښايي له لويه سره ټول افغانستان ته ځينې پايلې ولري. په بلخ کې له ۲۰۰۷ کال څخه راوروسته د کوکنارو له کرکيلې د پام اړولو چاره د ګڼو فشارونو له ګډولې يا يوځای کېدو څخه ممکن شو چې د بيلا بيلو ځواکونو ملاتړ او له اقتصادي پلوه ښېرازه مزار شريف کې د بزګرۍ له ډګره دباندې د کار موقع په کې وې. همدا دواړه فکتورونه ښايي په لنډ راتلونکي کې نه وي. دا چې له ۲۰۰۷ کال څخه راهيسته په لومړي ځل بلخ له « کوکنارو د پاک» ولايت له درجې رالوېدلی ښايي د راتلونکي ښکارندويي وکړي. په عين حال کې دا هم د پام وړ ده چې ولايتي اداره به د ۲۰۱۲-۱۳ کال د زورورې پاکونې په دوام څه وکړي که نه، دغه هوډ يا د « کوکنارو پاکې» درجې لپاره ښوول شوی او يا هم په دې هيله چې خپل کوم سيال ناهيلی کړي چې ښايي د سرچينو له لارې ځان پياوړی کړي، د مزار شريف په لويديځ کې د کوکنارو له بيا راپورته شوي اقتصاد سره ځايي سياسي بدلونونه تړلي دي.په بدخشان کې چې په ۲۰۰۷ کال کې دغه ولايت له کوکنارو نژدې پاک شوی و اوس په ۱۴ ولسواليو کې توليد کښته پورته کېږي، په دې وروستيو کلونو کې داسې لږ جدي او له فشاره ډکې هلې ځلې شوي چې کرکيله يې وځپل شي. ظاهرآ دا نارسمي جوړجاړی او په ولايت کې د امنيت خرابېدونکی حالت د دې ښکارندويي کوي چې په راتلونکي کې به په بدخشان کې د کوکنارو کرکيله ډېره شي.

له لويه سره د داسې فکتورونو لېدل ګران دي چې په اوږدمهالي ډول دې د کوکنارو کرکيله کمه کړي. يوازې د اپيمو ټيټه بيه دا کار کولی شي خو هغه به هم په هر حال د لنډ وخت لپاره وي. د ۲۰۱۴ کال له امنيتي بدلون څخه وروسته چې د امنيت له پلوه د بې ثباته او يا له سيالۍ ډک چاپېريال د راتلو اټکل کيږي د هغه فشار په دوامداره توګه ساتل ګران دي چې د کروندو نړولو ته کارېږي. که د دولت واګې نورې هم کمزورې شوې نو د کوکنارو کرکيله به ورسره لا ډېرېږي. په ممکنه ځپځپانده او له سيالۍ ډک سياسي چاپېريال کې چې ښايي راڅرګند شي چې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو منډې ترړې

هم په دې کې راځي نو په داسې حالاتو کې توان خو پربړده چې هوډ ته یې لا څوک فکر نه شي کولی چې پر ولسونو داسې تګلارې پلې کړي چې پر هغو ښه نه لګیږي. په هغو سیمو کې چې د کوکنارو په کرکیله پایې طالبانو په دې ښه نوم خپل کړی چې کرهڼې ته یې لار پرانیستې. ډېر امکان د هغو معاملو او څنو دی چې د یوې غوره تګلارې د ترلاسه کولو پر ځای ( د بیلګې په توګه د مخدره موادو پر ضد مبارزه ) بله ترلاسه شي ( مثلاً امنیت ). دا کار په داسې سیمو لکه چمتال کې ډېر ممکن دی، هلته د امنیت ښه کېدل د ځایي پولیسو په ځای پر ځای کولو پورې تړلی ،په اوږد مهال کې د دوی وفاداري او ثبات لا هم د پوښتنې وړ دی. د ازبکستان اسلامي غورځنګ او نورې سیمه ییزې اورپکې ډلې ښایي د مخدره توکو تولید او قاچاق کې برخه واخلي چې یا د خپلو فعالیتونو لپاره پیسې پیدا کړي او یا « ناپېیلی » جلا ډلې په توګه او یا هم هسې د اضافي کار په توګه د مخدره توکو کاروبار وکړي.له ۲۰۱۱-۱۲ کال څخه د ۲۴ سلنې د کمېدو رپوټ د دې شاهدي ورکوي چې حکومت او نړیواله ټولنه واردمخه په نورو مسایلو کې بوخت شوې دي.

د اقتصاد په برخه کې یو ملي اقتصاد چې د نړیوالو لګښتونو د کمښت او پانګونې ته د زړه نه ښه کولو له امله مخ په ځوړ کېږي په کلیوالو سیمو کې به له بزګرۍ دباندې د کار کمې موقعې پیدا کړي، دغو کارونو د ګڼو کلیوالو لپاره پیسې پیدا کړې دی. که موقعې کمې شي، کورنۍ به بیرته کرهڼې ته مخه کړي او دا به بیا ډېرځله شرایطو ته په پام سره د پیسو له مخې ارزښتناک فصل، کوکنارو ته مخ اړوي. په هغو سیمو کې لکه د چمتال کښته سیمې چې اوبه په کې لږ دي بزګر هم ښایي د تیلو د لګښت له امله تر فشار لاندې وي او دا به دوی هڅوي چې کوکنار وکري، همدا فصل له ژورو څاګانو نه د اوبو را ایستلو لګښت پوره کولی شي.

د افغانستان او متحدو ایالاتو ترمنځ د امنیتي تړون پایله که هر څه وي بې له شکه چې د نړیوالو پیسو په راتګ کې به کمی راځي چې د دې له امله به ودانیز کارونه کمېږي او کوم مالي ملاتړ چې تر اوسه د شتمنۍ د "ویش" کوم حالت پیدا کړی و هغه به هم ورسره کم شي. دا به مخامخ یا په نا مستقیم ډول د کوکنارو د کرکیلې پر زیاتولو اغېز ولري. د پیسو د راتلو په کموالي به د نورو سرچینو د موندنې هڅه کېږي چې دا مالي ملاتړ دوام ومومي ( چې دځایي پولیسو ځواک هم په کې شامل دی ) له دې سره به جنايي پېښې زیاتیږي او د قانوني او نیمه قانوني سرچینو په سر به سیالي لا ډېرېږي (د سارې په توګه د طبیعي زېرمو لپاره د معدنونو سپړنه) که څه هم شمالي او مرکزي ولایتونه ښایي د بهرنیو ځواکونو له وتلو هغومره اغېزمن نه شي لکه سویلي او ختیځ ولایتونه خو ټولې سیمې به د مخامخ یا نامخامخ لګښتونو له کمېدو اغېزمنې کېږي، دغه راز د اقتصادي فعالیتونو کمښت چې د سیاسي بې ثباتۍ له امله پیدا کېږي هم اثر پرېباسي.

د کلیوالو ژوندانه لپاره "خوندي لار"چې ایران او پاکستان ته د کار موندنې په هیله کډوالي وه اوس ځکه کمه ده چې په دغو هېوادونو کې سیاسي حالت او د ایراني تومانو ارزښت لوېدلی دی. که چیرې په کابل کې جدي نښتې وشوې نو دغه حالت نور هم خرابېدی شي.

پاس یاد شوی سیاسي او امنیتي چاپېریال که څه هم د دې ښکارندویې کوي چې په ځانګړې توګه د ۲۰۱۴ کال د بدلون له امله په پیدا شوي حالت کې به نوې تګلارې ګرانې وي خو په ډېرو سیمو کې ( د سارې په توګه د بلخ په سیمو کې ) داسې ډېر شواهد شته چې له نغدو فصلونو او یا له بزګرۍ دباندې کار لپاره بازار او د پیسو موندلو ډېر چانس شته. د دې لپاره چې کورنۍ لا ډېر څه ترلاسه کړي، لا امن سیمې او ترانسپورت ته لاسرسی، بازار او اوبه موندل چې ډوډۍ پرې پیدا کړي او هغه اداري او بیالوژیکي خنډونه باید لیرې شي چې قانوني فصلونو ته په لار کې پراته دي چې په دې ډول د کمو عایداتو بزګران چې ان په هغو ښو سیمو کې لا د فصلونو له ناروغیو، بدو سړکونو، څېڅپانده امنیت او بهرني بازار موندنې په څېر مسایلو سره لاس و ګرېوان دي. د راتلونکي په باب ناڅرګندتیا دا خطر زیاتوي چې بزګران ناقانونه فصلونو ته مخه کړي چې د بازار په شرایطو پورې تړاو نه لري.

AREU

د افغانستان لپاره د ښه څېړنې

۱۲ کاله
باکیفیته څیړنه

**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**
دحاجي یعقوب له څلور لارى څخه د شهید د
څلورلاري په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۱۴۴
کور، نوی ښار، کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
بریښنالیک:publications@areu.org.af
ویب پاڼه:www.areu.org.af

ټولی خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته
کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته
راوړی شی.

په کابل کې ددغه اداري په دفتر کې چاپ
شوی کاپیانې هم موجودی دی.